بسم الله الرحمن الرحيم

## د مسجد لمانځه په صفونو کې د فاصلې بدعت

## (ژباړه)

د فرید سعید، اسید سلیم، صفاءمحمد، حسن یاسر، ناصر الاسلام او رياحي ابو فاطمه وروڼو او خویندو د پوښتنو په ځواب کې!

تر دې وړاندې مې د جمعې د لمانځه په اړه د ۱۴۴۱ هـ.ق کال په شعبان میاشت کې او همدارنګه د ۱۴۴۱ هـ.ق کال په د شعبان میاشتې پر ۱۸مه، وروسته د ۱۴۴۱ هـ.ق کال د شوال په میاشت کې مې ځوابونه بیان کړي وو چې همغه ځوابونه ستاسو د پوښتنو لپاره بسنه کوي؛ په دغو ځوابونو کې داسې ویل شوي دي:

لومړی د ۱۴۴۱ هـ.ق کال په شعبان میاشت کې په دویم ځواب کې داسې ویل شوي: «... د جمعې لمونځ فرض عین دی، د الله سبحانه وتعالی د دغه قول په دلیل چې فرمایلي یې دي:

**﴿إِذَا نُودِي لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾** [منافقون: ۹]

*ژباړه: کله چې د جمعې لمانځه لپاره اذان وشي، د الله سبحانه وتعالی په ذکر پسې ولاړ شئ، پېر او پلور پرېږدئ. دا ستاسو لپاره غوره ده، که پوهېدئ!*

په پورتني ایت کې امر واجب دی، د هغې قرينې په دليل چې په ایت کې راغلې ده، چې هغه له مباحو څخه نهيې ده. دا نهې پر جازم طلب دلالت کوي. حاکم په مستدرک کې له طارق بن شهاب، له ابوموسی او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح شرط سره روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ»**

***ژباړه:*** *له څلورو کسانو پرته د جمعې لمونځ په مسجد کې پر هر مسلمان واجب دی؛ غلام، ښځه، ماشوم او ناروغ.*

*(حاکم ویلي چې دغه حدیث صحیح دی)*

خو هغه څوک چې ډارېږي مسجد ته یې تګ  واجب نه دی، ځکه له بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلَا صَلَاةَ لَهُ إلَّا مِنْ عُذْرٍ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ»**

ژباړه: *له شرعي عذر پرته که چا اذان واورېد او اجابت یې نه کړ، لمونځ یې نه سیي کېږي. ویې ویل، اې رسول الله صلی الله علیه وسلم عذر څه دی؟ ویې فرمایل: ډار او یا ناروغي.*

(بیهقي دغه حدیث په سنن الکبري کې راوړی دی.)

او په همدغه ترتیب نور روایاتونه هم شته. پر همدغه اساس، له استثناء پرته د جمعې لمونځ پر هر مسلمان واجب دی.

**دویم:** د ۱۴۴۱ هـ.ق کال د شعبان پر ۱۸مه موږ داسې ویلي دي: د الله سبحانه وتعالی دغه قول:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾** [جمعه: ۹]

*ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! کله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وشي، د الله سبحانه وتعالی ذکر ته ودانګئ، پېر او پلور بند کړئ. دا ستاسو لپاره غوره ده که پوهېدئ!*

نو پر همدغه اساس، پرته له دې منع شي، مسلمان د جمعې لمانځه لپاره هڅه کوي؛ په همدغه ترتیب د جمعې د لمانځه لپاره هڅه فرض ده. ځکه دا هڅه متقرن په ترک سره مباح ده؛ یعنې د جمعې لمونځ په ځانګړي ځای لکه کور کې نه ادا کېږي. پر همدغه اساس، په مسجد کې د جمعې

د لمانځه ادا کولو منع جواز نه لري. په ځواب کې ویل شوي چې د مسجدونو تړل او د حکامو له لوري د جمعې له لمانځه څخه منع جایزه نه ده او لویه ګناه ده. پر همدغه بنسټ، که حکامو په مسجدونو کې د جمعې د لمونځ ادا کول منع کړل او له کورونو پرته بل ځای پاتې نه شو، نو په هغه صورت کې دې څلور رکعته د جمعې لمونځ ادا شي؛ خو دولت د مسجدونو تړلو له امله د سترې ګنا مرتکب شوی دی.

د اسبابو په اړه باید وویل شي: د اسبابو او تدابیرو نیول سم او جایز دي. په دې شرط چې د شریعت مخالف نه وي. د جمعې د لمانځه په تړاو تدابیر دا دي چې ناروغان ولاړ نه شي، خو روغ کسان دې د لمانځه ادا کولو لپاره مسجدونو ته ولاړ شي. په دغه ځواب کې مې د مسجدونو تړلو او بندولو په تړاو کافي دلیلونه یاد کړل او ومو ویل چې راغه کسان دې د لمانځه ادا کولو لپاره مسجدونو ته ولاړ شي او د ساري ناروغیو مخنیوي او هغو کسانو لپاره چې پر دې ناروغیو اخته دي، تدابیر ونیول شي؛ چې دا مسله واضحه ده. داسې ونه ویل شي چې روغ کسان ځینې وخت پر کورونا ناروغۍ اخته دي؛ خو نښې یې نه دي واضح شوې. باید ټول خلک مسجد ته له تګ څخه منع شي، یعنې د هغې سیمې ټول اوسېدونکي باید مسجد ته له تګ څخه وګرځول شي؛ چې د داسې استدلال او وینا لپاره هېڅ دلیل نشته.

**دریېیم:** وروستی ځواب مو د ۲۰۲۰ میلادي کال د جون پر اتمه راغلی دی:

- رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کوم د کیفیت تغیر د لمانځه لپاره ټاکلی، هغه بدعت دی. په

دې برخه کې شرعي حکم دا دی چې روغ کس دې په عادي ډول په لمانځه کې ګډون وکړي او پر

لپسې دې له فاصلې پرته په صفونو کې ودرېږي؛ خو پر ساري ناروغۍ اخته کس دې مسجد ته د

لمانځه لپاره نه ځي.

- کله چې دولت مسجدونه وتړل او روغ خلک یې د جمعې او له نورو لمنځونو څخه منع کړل، د لویې

گناه مرتکب کېږي. په دې دلیل چې د جمعې او له نورو لمنځونو څخه یې خلک منع کړل. نو لازمه

ده چې تل د لمانځه لپاره مسجدونه پرانیستي وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

- کله چې دولت لمنځ کوونکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه له لمونځ کولو څخه منع

کړل او هغوی یې اړ کړل چې په لمانځه کې یو یا دوه متره واټن مرات کړي؛ په ځانگړي ډول که د

ناروغۍ نښې نه وي، دا ستر گنا بلل کېږي.

دا شرعي حکم دی چې په دې مسله کې ترجیع ورکوو. الله سبحانه وتعالی تر ټولو عالم او حکمت درلودونکی دی. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې مسلمانان پر سمه لار روان کړي او څنگه چې الله سبحانه وتعالی امر کړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه عبادت وکړي. حنیفي شریعت له کومې نیمگړتیا پرته د راشده خلافت په بیا تاسیس سره پلی کړي. له شک پرته د الله سبحانه وتعالی په مرسته د خلافت په بیا تاسیس کې لوی خیر او بریا ده. الله سبحانه وتعالی هېڅ شی په ځمکه او اسمان کې نه دي عاجز کړي او الله سبحانه وتعالی ماتې نه منونکی ذات دی.»

**څلورم:** دا چې د جمعې لمونځ فرض عین او لازم دی او دغه لمونځ باید په هغه کیفیت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړی ادا شي؛ خو د حکامو له لوري په دې طریقه له لمانځه څخه منع کول ستره گناه ده، برابره ده چې که دغه منع کول له مسجدونو څخه وي او یا په شرعي طریقه له لمانځه څخه د خلکو په منع کولو وي.

بل دا چې د جمعې لمونځ فرض عین دی او هر مسلمان ته لازمه ده چې د جمعې لمانځه د ادا کولو لپاره په شرعي طریقه هڅه وکړي او په ټولو ارکانو او شرطونو سره یې ادا کړي؛ چې صفونه یو

له بل سره تړلي وي. که د جسمي مانع دليل وي او يا داسې ظالم حاکم وو چې په شرعي طريقه يې مسلمانان د لمانځه له ادا کولو څخه منع کول، لمونځ کوونکي يې اړ کول چې بدعت ترسره کړي، د صفونو تر منځ يې واټن اجباري کاوه، په دغه صورت کې دې لمونځ کوونکي تر خپله وسه لمونځ ترسره کړي او پخپله ظالم حکام ګنهکاربږي. په هغه روايت کې چې مسلم رحمهماالله له ابوهريره څخه روايت کړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ»**

ژباړه: *کله چې مې تاسو ته د کوم کار دنده وسپارله، څومره مو چې وس کېږي، هغه دستور ترسره کړئ. (بخاري)*

نو پر همدغه اساس، که يو مسلمان دا وس درلود چې د جمعې لمونځ په پيوست ډول په صفونو کې ترسره کړي، لازمه ده چې په همغه صورت کې يې ترسره کړي. ځکه د لمانځه په صفونو کې فاصله تر هغه يې چې وس لري، بدعت ده؛ خو که د حکامو د جبر له امله مو وس نه درلود چې هغه په شرعي طريقه ادا کړئ، تر خپله وسه لمونځونه وکړئ. نووي متفوي په ٦٧٦ هـ.ق کال کې پخپل کتاب (منهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) د دغه حديث د شرحې په اړه د مسلم په لفظ سره ويلي: له ابوهريره روايت شوی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«فإذا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ»**

ژباړه: *کله مې چې د کوم کار امر درته وکړ، څومره چې وس لرئ، هغه ترسره کړئ. (بخاري)*

نووي د دغه حديث په شرحه کې ويلي: کله چې تاسو ته د يو څه امر کوم، هغه حکم څومره چې وس لرئ، ترسره يې کړئ. دا د اسلام مهم قواعد او هغه خبرې دي چې بيان شوې دي. د دې قاعدې پر اساس دي، ټول مسلمانان خپل لمنځونه له ارکانو سره يوځای ترسره کړي. الله سبحانه وتعالی تر ټولو غوره عالم دی.

**پنځم:** په همدغه ترتیب، ټولو پوښتنه کوونکو ورونو ته لازمه ده چې په جدیت سره د جمعې لمونځ ادا کړي؛ ځکه د جمعې لمونځ فرض عین دی.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾** [جمعه: ۹]

*ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! کله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وشي، د الله سبحانه وتعالی ذکر ته ودانګئ، پېر او پلور بند کړئ. دا ستاسو لپاره غوره ده که پوهېدئ!*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ»**

*ژباړه: له څلورو کسانو پرته د جمعې لمونځ په مسجد کې پر هر مسلمان واجب دی؛ غلام، ښځه، ماشوم او ناروغ.*

*(حاکم ویلي چې دغه حدیث صحیح دی)*

یعنې څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، په پیوست ډول په صفونو کې لمونځ ادا کړئ؛ خو که حکامو په اجباري ډول د لمانځه په صفونو کې پر فاصلې پرېښودو ټینګار کاوه، نو په دغه صورت کې تر خپل وس پورې لمونځ ادا کړئ. په عین حال کې باید د راشده خلافت لپاره په جدي ډول کار وکړئ، څو د الله سبحانه وتعالی په مرسته د خلافت په بیا تاسیس سره ټول شرعي احکام پلي شي.

هیله‌مند یم چې په همدغه کچه ځواب بسنه وکړي، الله سبحانه وتعالی تر ټولو عالم او باحکمته دی.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابوالرشته**

۲۷مه صفر د ۱۴۴۲هـ.ق

۱۴مه دسپټمبر ۲۰۲۰ م

ژباړن: بهیر «ویاړ»